د حزب التحرير

ولايه افغانستان

مطبوعاتي دفتر

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾

حزب التحرير HIZB UT TAHRIR

شنبه ۲۹ رمضان ۱۴۳۸هـ ۲۴-۰٦-۲۰۱۷م گڼه: ح.ت.افغ ۱۴۳۸/۰۷


## مطبوعاتي اعلاميه

## حزب‌التحرير ـ ولايه افغانستان

## د زړه له کومي ټول اسلامي امت ته د نېکمرغه فطر عيد مبارکي وايي

حزب التحرير-ولايه افغانستان له کابل څخه تر جاکارتا، بيت المقدس، حلب او اسلامبول پورې د نړۍ په گوټ-گوټ کې ټول اسلامي امت ته دعا کوي ترڅو الله سبحانه وتعالی زموږ او ستاسو صيام، قيام، طاعات او عبادات ټول په خپل دربار کې قبول کړي.

د عيد ورځې له خوښۍ، خوشالۍ، مينې او مهربانۍ څخه ډکې ورځې دي. مگر اوس د غير اسلامي او طاغوتي نظامونو تر سيوري لاندې د مسلمانانو ژوند له جگړو، فتنو، فحشا، ذلت، سپکاويو او مقدساتو ته له توهين او گمراهۍ څخه ډک شوی دی. لکه څنگه چې د افغانستان مسلمانان د امريکا د لاسپوڅي نظام تر سيوري لاندې هره ورځ د «بمونو د مور»، «ټانکر بمب»، پياوړو چاودنو او د وينې زبېښونکو صليبي ځواکونو د هوايي بمباريو قرباني کيږي او د خپلو زړونو ټوټې له لاسه ورکوي.

له دې سره–سره خلک په قصدي ډول قومي، مذهبي، ژبنيو، سمتي او سيمه ييزو رقابتونو ته ورټېل وهل کيږي. په داسې حال کې چې د امريکا او د هغې د لاسپوڅو له خوا د کورنيو اختلافونو پايلې په مراتبو د «بمونو د مور» له تلفاتو څخه ډېرې زيانمنوونکې دي. له همدې امله خلک د عيد په نېکمرغه او مبارکو ورځو کې د خوشالۍ او مهربانۍ پر ځای د نفرت او نفاق موجونه تجربه کوي.

سره له دې، موږ د الله سبحانه وتعالی په رحمت باندې ټينگ او راسخ ايمان لرو، چې ډېر ژر به د خپلې مرستې او ملاتړ په واسطه په نړۍ کې د دويم راشده خلافت تر رهبرۍ لاندې بنسټيز تغيير راولي. د نړۍ اوسنی نظم چې ښاماران او ماران د انسان په جامه کې د انسانانو وينې او غوښې خوري را وپرځوي او د هغوی پر ځای به داسې عادل او محسن رهبران چې د غرباوو صفات به لري، په داسې زمانه کې چې نور خلک فساد کوي، هغوی به اصلاح ترسره کوي، د بشريت رهبري به پر غاړه واخلي او خلک به د غربي نظامونو له تيارو، جهالت او ظلم څخه د اسلام نور، هدايت او عدل ته را وباسي. ځومره ژر ده هغه ورځ، مگر تياره زړې هغه ليرې او ناممکنه گڼي.

﴿وَلَيَنصُرَنَّ اللَّهُ مَن يَنصُرُهُ إِنَّ اللَّهَ لَقَوِيٌّ عَزِيزٌ﴾ الحج: ٤٠

قطعا الله سبحانه وتعالی د هغو کسانو ملاتړ کوي چې (د دين او عبادت ځايونو څخه د دفاع) له مخې د هغه ملاتړ کوي. له شک پرته الله سبحانه وتعالی ځواکمن او برلاسی دی.

### د حزب التحرير-ولايه افغانستان مطبوعاتي دفتر


د حزب التحرير ولايه افغانستان رسمي ويبپاڼه
www.hizb-afghanistan.org
ايمېل پته
info@hizb-afghanistan.org

د حزب التحرير رسمي ويبپاڼه
www.hizb-ut-tahrir.org
د حزب التحرير د مرکزي مطبوعاتي دفتر ويبپاڼه
www.hizb-ut-tahrir.info